IslamHouse.com





# د اسلامي شريعت بشپړتيا
## او دبدعاتو ستونزې

ويناوال: علامه محمد بن صالح العثيمين
ترجمه: لقمان حكيم حكمت

# د اسلامي شريعت بشپړتيا

## او د بدعاتو ستونزې



ويناوال : علامه محمد بن صالح العثيمين – رحمه الله–

ترجمه : لقمان حكيم حكمت

بسم الله الرحمن الرحيم

## د ژباړن پېلیزه

الحمد لله رب العلمين ، ولاعدوان الا على الظالمين ، كالمبتدعة والمشركين ، والصلاة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين ، محمد وعلى اله واصحابه اجمعين ، وعلى كل من سار بنهجه وتمسک بسنته الى يوم الدين.

اما بعد : په دين کې بدعت جوړول هغه موضوع ده چې خلکو ته يې بيان ډېر زيات اړين دى ، په دې موضوع خلک خبرول او هغه علماء چې په دې رنځ اخته دي د دين په دائره کې ورته ارشادات کول او ورته خطايي په ګوته کول ټول هغه څه دي چې اسلام د يو مسلمان په بل ثابت حق بللى دى .

دا چې د علامة محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ اللهُ چاپ شوې مقاله واقعاً علمي ارزښت لري ، د بدعت متعلق په داسې بې مثاله علمي انداز مشتمله ده چې سارى نه لري ، د قواعدو په رڼا کې ، د ښه منطق او جالبې ګفتګو په بنسټ ډېره ښه ودانه محاضره ده ، زه په دې خوښ شوم چې د خپل ديني واجب په اساس يې پښتو ته وژباړم ، تر څو د عثيمين رَحِمَهُ اللهُ د تحقيق په بنسټ ابادې محاضرې ته د ليک په بڼه ورته په اسانه لاس رسى وشي .

په دې چې د کتاب خوند نور پسې هم اضافه شي ، د بدعت متعلق مې د سلفو صالحينو اقوال هم ترجمې ته ضميمه کړل تر څو داعي وکولاى شي د بدعاتو په رد کې له دغې اقوالو څخه استفاده وکړي .

د عثيمين رَحِمَهُ اللهُ د ژوند ، تعليم ، دندو او دعوتي پروګرامونه مې د هغه د مختصر ژوند ليک کې قلمبند کړي دي ، تر څو لوستوال وتوانېداى شي چې د شيخ رَحِمَهُ اللهُ علمي شخصيت او د هغه ذکاء وپېژني .

له يو پلوه خو به داعي د خپلو علمي شخصيتونو سره اشنايي هم پيدا کړي او له بل پلوه به يې له علمي تراث سره مينه هم په ځو ځو چنده شي ، او وبه پيژني چې د بدعاتو په رد او د نبي ﷺ د سنتو په تحفظ کې الله پلوه ديني علماوو څومره زيار ويستی او تر کوم حده يې د مبتدعينو مخه نيولې ده .

په اخر کې د رب کريم لايزال څخه سوال او عاجزانه ابتهال کوم چې اى الله زما څخه دا عمل قبول کړه ، اى الله زما دا عمل خالص ستا د رضا لپاره وګرځوه .

امين يا رب العلمين

## د امام محمدبن صالح العثيمين رَحِمَهُ الله د ژوند سوانح

د شيخ عثيمين رَحِمَهُ الله په اړونده به ډېر کم او دګوتو په شمېر وګړي معلومات نه لري ،لرې پرتې او نږدې سيمې د عثيمين رَحِمَهُ الله په بالاترۍ او نېکو اخلاقو او د پياوړي علم ګواهي ورکوي ، د ګرد اسلامي قلمرو په خېل خېل ځايونو کې د هغه د علم نمونې شتون لري .

د سلفو صالحينو په پل دغه تللى شخصيت اون ايابه هستۍ چې خپل رښتنوني عزم او کلک ايمان يې مخ په وړاندې روان کړی و ، د دې په پل پل اخستنه هم د انسان د ژوند يوائنې نېکمرغي ده .

شيخ عثيمين رَحِمَهُ الله چې د خپلې علمي پياوړتيا او د سمې روزنې ورکوني تر څنګ هغه د علم ، پوهې ، اخلاص ، رښتيا ، خاکسارۍ ، او د زهد او پرهېزګارۍ منل شوی سمبول او رښتونې نمونه هم وه .

محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ الله د قرانکريم په تفسير ، عقائدو ، فقه ، نبوي سيرت ، اصول فقه ، نحو ، او په نورو ديني علومو کې ډېرې ځانګړتياوې لرلې .

محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ الله هغه مبارکه او بابرکته هستۍ وه چې د زياتې مينې او محبت له مخه يې علم او پوهه د ځمکې پر مخ د بېلابېلو ځايونو ميشتو انسانانو د ژوند ژواک ديني او دنيوي د ورپېښو ستونزو د حل او فصل مصدر دی .

الله پاک دې محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ الله په جنت الفردوس کې د خپلو انبياؤ ، رښتينو خلکو ، شهيدانو ، او د نېکانو خلقو په ملګرتوب ونازوي .

امين

## د محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ اللهُ نوم نسب او زوکړه

د محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ اللهُ اسم کنيه ابو عبدالله ، خپل نوم يې محمد او د پلار نوم يې صالح ، د نيکه نوم يې محمد او د ډر نيکه نوم يې سليمان و ، د قبيلې له نګاه او په نسبي شجره تميمي و .
زوکړه يې د سعودي عربستان د قصيم د ښار مربوط عنيزې کلي کې د هجري قمري کال له مخې په (۱۳۴۷) د رمضان د مبارکې مياشتې په (۲۷) کې شوې ده .

## د محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ اللهُ علمي نشاطات

له کوچنيتوب پر مهال يې د لومړي ځل لپاره له مور طرفه نيېکه عبدالرحمن بن سليمان الدامغ رَحِمَهُ اللهُ څخه قرانکريم په يادو ضبط کړ ، او بيا سمدستي يې د ليک لوست او ورسره د عربۍ ادب او د حساب د زده کړې په منظور دکلي مربوط نزدې روزنتون ته ولاړ ، او د تېر په څېر يې د حديثونو او فقه ، د اړتيا وړ متون حفظ کړ ، علامة عبدالرحمن ناصر السعدي رَحِمَهُ اللهُ د خپلو تدريسي مهارتونو له مخې به خپل لويان شاګردان د ځېنو کوچنيانو په روزنه ګمارل ، دغه مهال د عثيمين رَحِمَهُ اللهُ روزنه محمد بن عبدالعزيز المطوع رَحِمَهُ اللهُ په غاړه واخسته .
د وخت په تېرېدو چې محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ اللهُ په توحيد ، فقه او نحو کې لومړي قواعد په خپل فهم کې راوستل ، د دې جوګه شو چې د علامه عبدالرحمن ناصر السعدي رَحِمَهُ اللهُ په حلقه کې د درسونو د ضبط لپاره خپله حاضري ورکړي ، هغه و چې د خپل بېدار بخت او ويښ برخليک له مخې يې له علامه سعدي رَحِمَهُ اللهُ څخه

تفسير ، حديث ، توحيد ، فقه ، اصول فقه ، فرائض ، او نحو په ښه توګه ياد کړل .
له دغې ځاى څخه په څرګند ډول بريښي چې علامه سعدي رَحِمَهُ الله د رَحِمَهُ الله لومړی ښوونکی دی چې له دغې پاکې صفا علمي چينې څخه يې د لومړي ځل لپاره ګوټ وکړ.
علامه سعدي رَحِمَهُ الله د خپل تدريس په مهال په شيخ عثيمين رَحِمَهُ الله کې د چټکې زده کړې ، او د ښه علمي زير کتيا نښې نښانې وليدې چې د شاګردۍ په دوران کې يې په خپلې حلقه کې د ښه ښوونکي په صفت وګمارو .
بيا يې له عبدالرحمن بن علي بن عودان رَحِمَهُ الله نه د ميراث علم يو ځل بيا په ځانګړي توګه هغه مهال واخست چې کله هغه د عنيزې د منطقې د قضاء په دنده وګمارل شو .

او شيخ عبدالرزاق عفيفي رَحِمَهُ الله نه يې په عنيزه کې د بلاغت ، نحو علوم او فنون په ښه توګه واخست .
بيا چې کله په رياض کې د المعهد العلمي پرانسته وشوه د خپلو ځينو مخلصو ملګرو په مشوره او د شيخ عبدالرحمن سعدي رَحِمَهُ الله سره په سلاه يې په نوموړي معهد کې التحاق وکړ ، او د (۱۳۲۷) هجري قمري کال څخه راپېڅوا يې په مذکوره معهد کې له نامتو او سترو پوهانانو څخه علمي استفادې وکړې ، د دغې نامتو علماوو د ليکې په سر کې علامه محمد الامين الشنقيطي ، شيخ عبدالعزيز بن ناصر بن رشيد ، شيخ عبدالرحمن افريقاي رحمهم الله شامل وو .
بيا يې له شيخ عبدالله بن عبدالعزيز بن باز رَحِمَهُ الله څخه صحيح البخاري ، فقه مقارن ، او نور علوم واخست ، چې ابن باز رَحِمَهُ الله يې دوهم اساسي استاذ او ښوونکی بلل کيږي .
د رياض علمي معهد له فراغت څه وروسته سمدستي د رياض د امام محمد بن سعود اسلامي نړيوال پوهنتون کې تر هغه پورې د شاګرد په توګه پاتې شو چې ورڅخه يې د ليسانس (بکالوريوس) بری ليک تر لاسه کړ .

## د محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ الله علمي نشاطات او دندې

- وړاندې مو وويل چې علامه عبدالرحمن سعدي رَحِمَهُ الله شيخ عثيمين رَحِمَهُ الله د چټكې زده كړې او علمي زيركتيا له كبله په (١٣٧٠هـ) كې د عنيزې په لوى مسجد كې د استاذ په صفت وګمارو ، او د رياض د علمي معهد تخرج او فراغت وروسته د عنيزې په علمي معهد كې په ( ١٣٧٤ هـ ) كې د پيياوړې ښوونكي په صفت د تدريس په دنده وګمارل شو .
- د علامه عبدالرحمن السعدي رَحِمَهُ الله له مړينې ورسته په ( ١٣٧٦هـ ) كې دجامع مسجد د خطابت او امامت ذيمه واريانې هم په غاړه واخستې ، او د سعدي رَحِمَهُ الله په ( ١٣٥٩هـ ) كې د دغې مسجد اړوند عنيزه كې د جوړې كړې مكتبې د تدريس دنده يې هم په غاړه لرله .

د خپل مرګ تر اخره سلګې پورې د دغې مكتبې مدرس و ، خو چې كله يې هم د ملک داخلي او خارجي شاګردان دې حد ته ورسېدل چې په مكتبه كې يې ځاى پرځاى كېدل له امكان څخه ووتل نو تدريس يې جامع مسجد ته نقل كړ .

- دعنيزې معهد د تدريس دندې ترڅنګ يې په رياض كې د امام محمد بن سعود اسلامي نړيوال پوهنتون كې د تدريسي منهج غړيتوب هم لرو چې ځيني منهجي ليكنې يې هم پدغه اړوند نوشته كړې دي .

هيره دې نه وي چې د عنيزې د علمي معهد تدريس يې د ( ١٣٩٨هـ ) كال پورې وغځېد.

- د وفات تر اخرې سلګې پورې له (١٣٩٩هـ ) څخه راپدېخوا په قصيم كې د

اصول الدين په پوهنځي کې ورته د نامتو او د پياوړي استاذ په توګه ګوته نيول کېده .

- د ووړي په رخصتيانو کې به يې په مکي حرم او مدني حرم کې ګڼ شمير درسونه ورکول په ځانګړي توګه د حج او عمرې په موسمونو کې .
- د سعودي عربستان د داخلي علمي پلاوې غړيتوب يې هم درلود .
- د تليفون په کرښه به يې سعودي عربستان او په نورو ګڼ شمير هيوادونو کې علمي محاضرات هم وړاندې کول .
- په عنيزه کې د قرانکريم د ضبط د جمعيت د تاسيسي کال ( ١٤٠٥هـ ) څخه تر مرګ پورې د رياست دنده هم په غاړه درلوده .
- د ( ١٣٩٨-١٣٩٩ هـ ) او د ( ١٤٠٠هـ ) د دوو کلنو په مهال د امام محمد بن سعود اسلامي په نړيوال پوهنتون کې يې د علمي مجلس غړيتوب هم درلود .
- په قصيم کې د اصول الدين د پوهنځي د رياست تر څنګ يې د شرعياتو د پوهنځي غړيتوب او عضويت هم درلود .
- له (١٤٠٧هـ )کال څخه راپدېخوا ده سعودي عربستان د هيئة کبار العلماء عضويت او غړيتوب يې د مړني تر اخرې سلګې پورې درلود .

د دغې چارو د سمبالو سره يې نور ديني او زړه پورې انساني نيکې رويې او شرعي وجايب هم ترسره کول ،هغه د فتوې ورکونکي او د خلکو تر منځ د راپېدا شو پېښنو دحل او د فصل په شمول د ديني ګټې وټې طرفدار هم وو ، هغه به هميشه خلک خاکسارۍ زهد او تقوىٰ ته هڅول .

هغه خپل ژوند د ژوند اړوند چارو باندې ويشلی و ،هغه به د قصيم د قاضيانو سره هفته واره غونډه کوله ، او په عنيزه کې به يې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د هيئت سره هم اوونيزه غونډه کوله چې به يې ورسره په دغې هکله تفصيلي خبرې اترې کولې .

د کلني مهال ويش له مخې به يې پخپل کور کې هفتوارې غونډې کولې ، او پخپل مسجد کې به يې مياشتينيزې علمي غونډې هم کولې ، او له خپلې منطقې څخه د باندې به يې په بيلابيلو کليزو غونډو کې برخه هم اخسته .

- په ( ۱۴۱۴هـ ) کال کې يې د ملک فيصل نړيوال مډال تر لاسه کړ ، او مډال ورکولو هيئت يې برياليتوب په راراوانو مذکوره نقطو کې څرګند کړ :

نوموړی د علماوو د رښتوني اخلاقو او د نېکې روېې حقيقي سمبول دی ، د زهد ، پرهيزګارۍ ، د پراخې سينې ، د حق په وينا قايم ، د عامو او خاصو مسلمانانو د مصلحت رښتوني لټونوال دی .

د نړۍ ګڼ شمير وګړو يې له علم ، تدريس ، فتوی او ليکنو څخه زياته استفاده کړې ده .

د نړيوالو اسلامي کانفرنسونواوغونډو کې زيات ګډونوال .

د فکر او سلوک له نګاه نه او په ښه انداز په ځانګړې توګه د الله پاک رښتني دين ته خلک رابلل .

## د شيخ رَحِمَهُ اللهُ علمي جد جهد او نشاطات په لاندې نقاطو کې نچوړ دي

۱- له ( ۱۳۷۰هـ ) کال څخه تر (۱۴۲۱هـ ) کال پورې خپل ټول ژوند په تعليم او تعلم کې تېر کړ .

يعنې سمه نيمه پيړۍ نه هم زيات عمر يې اسلامي ښوونې ته وقف کړی و ، د عنيزې په منتطقه کې به هغه هره ورځ درس او تدريس کو .

۲- د حج په مواسمو کې او په ځانګړي توګه د رمضان د مياشت په مبارکه مياشت کې به يې په دواړو حرمونو مکې او مدني کې اسلامي تعليماتو ښوونې کولې .

٣- د امام محمد بن سعود په اسلامي پوهنتون کې يې د تدريس دنده مخ په وړاندې هم بوويله .

٤- د تليفون په کرښه به يې د اسلامي مرکزونو له لارې د سعودي عربستان په داخل او خارجي مملکتونو کې درسونه ورکول .

د دغې ترڅنګ به چې کله هم يوې منطقې ته ولاړ ، هرو مرو به يې د منطقې ميشت خلکو ته علمي محاضرات وړاندې کول .

٥- هغه به هميشه خلکو ته د دې ايت په هکله زيات وعظ نصيحت کو چې ﴿ وَاعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُم مُّلَٰقُوهُ ﴾ او بيا به يې ويل : د الله په ذات مې دې قسم وي ، که رښتيا هم مونږ د ويخ زړه او ضمير څښتنان واى ، نو دې ايت به زمونږ په نفسونو کې راسخ اثر کړى واى .

د دغې ترڅنګ به هغه هميشه د ژوند زياته برخه د علم لټونوالو ته ورکوله ، هغه به شاګردانو ته اسلامي توجيهات ، د صبر زغم تربيه ورکوله .

هغه به د عنيزې په منطقه کې په خپل مسجد کې د جمعې د مبارکې ورځ خطبې هم وړاندې کولې ، د هغه خطبې به له نورو شيوخو کرامو څخه ټولو اسلامي احکامو ته شاملې وې ، د هغه خطبې د الله پاک په خاص فضل او احسان تر نن ورځ پورې عملي اثار د خلکو په معاملاتو ، عباداتو کې په څرګند ډول بريښي .

## د محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ ٱللَّهُ صفتونه او مناقب

ـ: شيخ رَحِمَهُ ٱللَّهُ يوائې دا نه چې په ښوونې او روزنې او د علمي محاضراتو په ورکونې يې بسنه کوله ، نا بلکې هغه په علم ، تواضع ، صبر او زغم ، او پرهيزګاري کې دومره ستر ارزښتناک سمبول و چې خلکو يې هم پل خپل کړی دی.

ـ: شيخ عثيمين رَحِمَهُ ٱللَّهُ د ژوند په مهال ويش ، علمي جدوجهد ، او د نيکو ښائسته اخلاقو باندې زيات شهرت لرو ، هغه به ګردو خلقو سره په کولاو تندي چې خوشحالي به پرې خوره وره وه مخامخ کېده ، د خلکو په زړونو کې به يې خوشحالي ننوسته.

ـ: شيخ عثيمين رَحِمَهُ ٱللَّهُ به په ځانګړي توګه ځوانانو ته زيات نصيحت او قابل قناعت وعظ کو ، د هغوی سره به يې د ژوند لحظات په قابو کې د راوستنې اړوند مناقشې کولي
.

ـ: شيخ عثيمين رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خپل ژوند په ګردو چارو کې د اسلامي شريعت تنفيذ لومړی اختيار و.

ـ: د ديني امانت ستره نښه يې دا وه چې د پوښتنې په مهال به يې چټکه فتوی نه ورکوله ، هغه مهال چې به ورڅخه پوښتنه وشوه نو لومړی به يې وويل : زه د مسئلې اړوند لږ سوچ کوم بيا به يې مدلل جواب وکړ.

ـ: د ناروغتيا په مهال هم د شيخ رَحِمَهُ ٱللَّهُ علمي عزيمت لکه د تېر په څېر پياوړی او په جوش خروش کې و ، د وروستۍ ناروغتيا له کبله چې کله د امريکې متحده ايالاتو ته د علاج لپاره ولاړ ، هلته يې هم امريکايي مسلمانانو ته زياتې علمي محاضرې تقديم کړې ، او د هغوی د جمعې د مبارکې ورځې امامت به يې کو.

بيا چې کله سعودي پلازمېنې ته راستون شو ، خپل دعوتي مهم او پروګرام يې نور

هم مخ په وړاندې بوت ، چې وريېښې ناروغې يې هيڅ مخه ونه نيوله .
بالاخره د دغې ناروغې له کبله يې خپل روح الله پاک ته د هغه د قضاء سره سم وسپارته ، الله دې د شيخ رَحِمَهُ الله دغه هلې ځلې د هغه د منزلت د لوړتيا سبب وګرځوي .

## د شيخ محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ الله ليکنې او اثار

شيخ رَحِمَهُ الله ډېر زيات علمي اثار او ليکنې لري چې د بېلګې په توګه يې د ځېنو په لاندې ډول يادونه کوو :

١ – ۴۸ سؤالا في الصيام .
٢ – ۶۰ سؤال و جواب في احكام الحيض .
٣ – احكام الاضحية والذكاة .
۴ – اسماء الله وصفاته و موقف اهل السنة منها .
۵ - الابداع في كمال الشرع و خطر الابتداع .
۶ – الاصول من علم الاصول .
٧ – الاعتدال في الدعوة .
٨ – الخلاف بين العلماء
٩ – الذكر الثمين .
١٠ – الزواج .
١١ – الشرح الممتع علىٰ زاد المستقنع .
١٢ – الضياء اللامع من الخطب الجوامع .
١٣ – القواعد المثلىٰ في صفات الله واسمائه الحسنىٰ
١۴ – القول المفيد علىٰ كتاب التوحيد .
١۵ – اللقاء الشهري .
١۶ – المداينة .
١٧ – المنتقى من فرائد الفوائد .

۱۸ –المناهي اللفظية .

۱۹ –المنهج لمريد العمرة والحج .

۲۰ –بحوث و فتاویٰ في المسح علیٰ الخفين .

۲۱ –تسهيل الفرائض .

۲۲ –تعاون الدعاة و اثره في المجتمع .

۲۳ –تعليق مختصر علیٰ كتاب لمعة الاعتقاد .

۲۴ –تفسير العلامة محمد العثيمين .

۲۵ –تقريب التدمرية .

۲۶ –تلخيص فقه الفرائض .

۲۷ –جلسات رمضانية ۱۴۱۰-۱۴۱۵هـ .

۲۸ –حقوق دعت اليها الفطرة و قررتها الشريعة .

۲۹ –حكم تارک الصلاة .

۳۰ –دروس و فتاویٰ الحرم المدني لعام : ۱۴۱۶هـ .

۳۱ - رسالة الحجاب .

۳۲ –رسالة في الدماء الطبيعية .

۳۳ –رسالة في القضاء والقدر .

۳۴ –رسالة في سجود السهو .

۳۵ –زاد الداعية .

۳۶ –شرح الاربعين النووية .

۳۷ –شرح التدمرية .

۳۹ –شرح العقيدة السفارينية .

۴۰ –سرح العقيدة الواسطية .

۴۱ –شرح الفية ابن مالك .
۴۲ –شرح منظومة البيقونية في مصطلح الحديث .
۴۳ –شرح ثلاثة اصول .
۴۴ –شرح حديث جابر في صفة حج النبي - صلى الله عليه وسلم - .
۴۵ –شرح دعاء قنوت .
۴۶ –شرح رياض الصالحين .
۴۷ –طهارة المريض و صلاته .
۴۸ –عقيدة اهل السنة و الجماعة .
۴۹ –فتاوى اركان الصلاة .
۵۰ –فتح رب البرية بتلخيص الحموية .
۵۱ –فصول في الصيام والتراويح والزكاة .
۵۲ –فقه العبادات .
۵۳ – كيف تؤدي مناسك الحج والعمرة .
۵۴ –لقاء الباب المفتوح .
۵۵ –مجالس شهر رمضان .
۵۶ – مجموع فتاوى ورسائل الشيخ العثيمين .
۵۷ – مجموعة اسئلة تهم الاسرة المسلمة .
۵۸ –مختصر مغني اللبيب عن كتاب الاعاريب .
۵۹ – مصطلح الحديث .
۶۰ – مطوية نبذ في الصيام .
۶۱ – مكارم الاخلاق .
۶۲ – من الاحكام الفقهية في الطهارة و الصلاة و الجنائز .

٦٣ - من مشكلات الشباب .
٦٤ –مناسک الحج و العمرة و المشروع في الزيارة .
٦٥ – منها ج اهل السنة و الجماعة في العقيدة والعمل
٦٦ –نبذة في العقيدة الاسلامية .
٦٧ –اخطاء يرتكبها بعض الحجاج .
٦٨ –تعليق العثيمين على صحيح البخاري .
٦٩ –شرح باب صفة الصلاة من الزاد .
٧٠ –شرح كتاب الصوم من بلوغ المرام .
٧١ –رسالة في البيع .
٧٢ –قواعد في الاملاء .
٧٣ –مجموعة رسائل ملحقة بكتاب العلم .
٧٤ –منظومة في القواعد والاصول .

## د شيخ عثيمين رَحِمَهُ اللهُ مړينه

د (١٣٢١هـ) کال د شوال د مياشتې په پنځلسمه نېټه د چارشنبې په ورځ مازديګر ناوخته د شيخ رَحِمَهُ اللهُ د مړينې خبر لومړی د سعودي عربستان د مشهور ښار جدې نه خپور شو.

د شيخ عثيمين رَحِمَهُ اللهُ دغې اعلان هر فرد نارينه او زنانه، هر کور، هر کلی، هره منطقه، خفه او بې دمه کړه، او کور په کور، منطقه په منطقه يې د مړينې تعزيتونه ورکول کېدل او اخستل کېدل، هر چا د سعودي عربستان ټولواک فهد بن عبدالعزيز او ولي العهد عبدالله بن عبدالعزيز او نورو لوړ پوړو ته د عثيمين رَحِمَهُ اللهُ د مړينې تعزيتونه پيغامونه د فاکس له لارې ولېږدول، ځينو خلکو د عثيمين رَحِمَهُ اللهُ د دغې راز پلټنه پيل کړه، چې دغه د مينې او محبت منزلت او لوړ مکانت عثيمين رَحِمَهُ اللهُ له کوم ځای څخه تر لاسه کړی دی، د مړينې په سبا يې ګرد ورځنيز، او اوونيز، او مياشتنيزو خپرونو کې د شعر او نثر په ژبه مرثيې وغږېدلې.

- : د (١٤٢١هـ) د شوال د مياشتې په شپاړسم د پنجشنبې په ورځ مازديګر لمونځ نه وروسته پرې په مسجد حرام کې د جنازې لمونځ وشو، د جنازې د لمونځ ګډونوالو شمېر په زرهاو باندې اوختی و.

مقبرې ته هم تللي خلک دومره ډېر وو چې شمير يې له امکان نه بهر و، بيا وربانديې د سعودي عربستان په داخل او خارج کې د غائبانه جنازو لړې پيل شوې، او په مکه مکرمه کې خاورو ته وسپارل شو.

- : د خلکو په زړونو کې د محبت او د مينې دروازې بيرته کول د الله پاک ځانګړې پيرزوينه ده، او له شک پرته ورسره ټولو خلکو مينه محبت کو، او الله پاک دې د هغه

سره د خلکو مينه د دې حديث مصداق وګرځوي چې نبي ﷺ فرمايي : کله چې الله پاک د يو انسان سره د مينې او محبت اراده وکړي ، جبريل ـ عليه السلام ـ ته اواز وکړي چې الله پاک د پلانکي انسان سره مينه او محبت کوي ته هم ورسره مينه محبت وکړه ، ان چې جبريل عليه السلام ورسره هم مينه وکړي ، بيا جبريل عليه السلام په اسمان کې اواز وکړي چې الله پاک د پلانکي انسان سره مينه او محبت کوي ، تاسو هم ورسره مينه محبت وکړئ ، ان چې د ځمکې ګردو اوسيدونکو پې ته محبوب کړي .

. : شيخ رحمه الله پينځه نارينه زامن : عبدالله ، عبدالرحمن ، ابراهيم ، عبدالعزيز ، عبدالرحيم ، ځان نه وروسته پريښودلي دي ، الله پاک دې په دغه پينځو واړو کې خير او بركت واچوي .

الله پاک دې شيخ رحمه الله باندې خپل ډېر زيات کرم او رحم وکړي ، الله دې هغه ته د جنت الفردوس لوړ مقام ورکړي ، هغه دې الله پاک پخپلو جنتونو ونازوي ، الله پاک دې هغه ته ګردې تيروتنې ، لغزشات ، بخشش کړي ، الله دې هغه ته د اسلامي خدماتو غوره او نېکه بدله ورکړي .

امين

وصلىٰ الله وسلم علىٰ خير خلقه محمد وعلىٰ اله واصحابه اجمعين .

لقمان حکيم حکمت

## لومړی : د بدعت تعريف

بدعت د عربۍ ژبې لفظ او کلمه ده ، تر ټولو لومړی بايد د عربۍ ژبې له نګاه نه د بدعت لغوي او اصطلاحي تعريف زده کړو ، تر څو د بدعت شرعي حيثيت او ډولونه په سمه توګه وپيژنو .

### د بدعت لغوي تعريف :

بَدَعَ : معنی : له کومې نمونې پرته يې ايجاد کړ .

اِبْتَدَعَ : معنی : پخپل زيار يې د نوي شي ايجاد وکړ .

بِدَعٌ او بَدِيْعٌ : هغه شی چې له نورو څخه لومړيتوب لري ، په دی هکله الله پاک فرمايي : [ قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ ] (١)

ژباړه : ورته ووايه چې زه خو څه په اسماني استازو کې نوی استازی نه يم .

معنی دا شوه چې له ما څخه ډېر پيغمبران او اسماني استازي مخکې تېر شوي دي چې زه يې وروستنی يم . (٢)

او بدعت په دين کې له بشپړېدو وروسته اضافه کارۍ ته ويل کيږي .

اَبْدَعَ ، اِبْتَدَعَ ، تَبَدَّعَ : معنی : نوی کار يې پيدا او ايجاد کړ چې وړاندې يې هېڅ نمونه نه لرله ، په دې هکله الله پاک فرمايي : [ وَرَهْبَانِيَّةً اِبْتَدَعُوهَا ] (٣)

ژباړه : او دوی [ بني اسرائيلو ] له خپل ځانه پيري ملنګي شروع کړېوه .

---

(١) سورت أحقاف : ( ٩ ) .

(٢) لسان العرب د ابن منظور ليکنه : ( ٨ / ٦ ) .چاپ : دارصادر بيروت .

(٣) سورت حديد : ( ٢٧ ) .

بَدّعَ : معنی : کار يې بدعت ته منسوب کړ .
اسْتَبْدَعَ : د بدعاتو له جملې څخه يې شمار کړ .
بَدِيْعٌ : معنی : د تعجب او حيرانتيا وړ کار .
او بَدِيْعٌ د الله پاک نوم هم دی په دې معنی چې اسمانونه او ځمکې يې له هيڅ کومې نمونې پرته جوړ او پيدا کړي دي .
د بدعت له دغې ګردو کلماتو څخه جوته شوه چې د [ بَدَعَ ] ماده په دين کې د خواهشاتو څخه راپيدا نوي کارونو ته ويل کيږي .
هېره دې نه وي چې [اِبْتِدَاع ] د الله پاک له پلوه له عدم څخه وجود ته د شيانو راستو ته ويل کيږي ، په دې معنی چې د مخلوقاتو او ګردو شيانو پيدا کول يوائې الله پاک کوي ، خو د مخلوق له لورې [اِبْتِدَاع ] د الله پاک او د هغې د راستولي رسول په ضد د شيانو او عبادتونو رواجولو ته ويل کيږي ، او دا د مذمت وړ دومره بد کار دی چې پوره پرې تمامه ده . (۱)
امام ابو شامه وايي : د بدعت او مبتدع نومونه يک او يوائې په مذماتو کې رائي ، خو ولې په لغوي بڼه دواړه کلمې د مدح او مذمت دواړو معناګانو ته شمول لرلی شي . (۲)

(۱) جامع الأصول : ( ۱ / ۲۸۰ – ۲۸۱ ) .داامام ابن الأثير ليکنه .
(۲) الباعث على انكار البدع والحوادث : ( ۲٤ ) . مكتبة دارالبيان دمشق .

## د بدعت اصطلاحي تعریف

که څه هم علماوو د بدعت په بېلابېلو اسلوبونو تعریفات کړي دي خو له کره کتنې او ژورې څېړنې وروسته ترې یوه معنی او یو مفهوم اخستل کیږي .

☐ امام جرجاني رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي :

بدعت په دین کې د هغې نوي رامنځ ته شوي کار نوم دی چې له صحابه کرامو رِضْوَانُ ٱللَّهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِينَ او تابعینو نه يې په صحت دروستوالی هېڅ اثر نه وي نقل شوی ، او نه هم د کوم شرعي دلیل مقتضا او غوښتنه وي . (١)

☐ ابن عابدین رَحِمَهُ ٱللَّهُ د بدعت په تعریف کې وايي :

بدعت ضد د شک او شبهې یا استحسان په بنسټ علمي یا عملي داسې نوی کار رواجول چې ورته د قوي دين او نېغې لارې او په ديني احترام قایل وي . (٢)

☐ شاطبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د بدعت تعریف داسې کوي :

دین او اسلام ته په ورته والي کې د داسې لارې پیدا کول چې غاړه کېښودلو باندې پرې د الله پاک په عبادت کې مبالغه کول وي . (٣)

په دې درېواړو تعریفونو کې واضح ترین او د مقصودونو په خورا بهترینه طریقه واضحه کونکی تعریف د شاطبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعریف دی ، یو خو دا چې تعریف دومره

---

(١) کتاب التعريفات : ( ٦٣ ) د جرجاني ليکنه ، تحقيق : ابراهيم أبياري ، چاپ : دارالکتاب العربي ، ١٤٠٥ هـ ١٩٨٥م .

(٢) حاشية رد المختار : ( ١ / ٥٦٠ – ٥٦١ ) . د محمد أمين بن عابدين ليکنه ، چاپ : دارالفکر .

(٣) الاعتصام : ( ٢٨ ) . چاپ : دارالباز للنشر والتوزيع مکة المکرمة .

واضحه او څرګنده دی چې له يوې خوا خو اسان فهمه دی ، او له بلې خوا پرې ټول احترازات له منځه بهر وځي .

□ عز بن عبدالسلام رحمه الله وايي :

د داسې کار کول چې د نبي ﷺ څخه يې ثبوت هيڅ صحت نه لري .(١)

(١) قواعد الأحكام : ( ٢ / ١٧٢ ) . د أبو محمد عبدالعزيز بن عبدالسلام السلمي ليکنه ، چاپ : درالکتب العلمية بيروت .

## دوهم : د بدعت ډولونه

د بدعت د لغوي او اصطلاحي تعريفونو وروسته مونږ ته جوته شوه چې بدعت په مختلفو اعتبارونو بېلابېل او جلاجلا ډولونه لري .

د من حيث الوضع په اعتبار بدعت دوه ډوله دی :

✍ : لومړی ډول :

○ حقيقي بدعت : حقيقي بدعت دېته ويل کيږي چې په اسلامي دائره کې ديني اصولو ( قران ، حديث ، اجماع ) ته هېڅ استناد ونه لري .

○ يا په بل اعتبار : حقيقي بدعت هغې ته ويل کيږي چې قراني ايت يا نبوي حديث يا اجماع ورباندې هېڅ دلالت نه کوي ، خو بدعتي انسان د دين پورې د شخصي غرضونو په بنسټ تړلی وي .

ځينې حقيقي بدعتونه د الله پاک څخه سرغړونې شمېرل کيږي او ځينې نور يې کفر هم بلل کېدای شي ، او دا هله چې بدعت عقيدوي چارو سره اړيکي ولري ، لکه : جبريت ، قدريت ، اعتزال ، په قراکريم د مخلوقيت عقيده لرل ، د الله پاک صفتونه نفي کول ، د کبيرې مرتکب کافر بلل ، يا د صوفيانو عقيدوي بدعتونه چې اوليا په ژوند کې هم او له مرګ څخه وروسته په نړۍ کې د ځينو تغييراتو او بدلون راوستلو توان لري او داسې نور ...

○ اضافي بدعت دوه اړخونه لري

روا اړخ : مبتدع انسان د دې مشروع اړخ له مخې نور داسې څه په دين کې ننباسي چې بيخي د شرعي کيفيت څخه يې بهر وباسي ، په خلکو کې هم نن سباد د بدعت دا ډول ډېر شتون لري ، د نمونې په توګه لکه : روژه ، طهارت ، لمونځ يا نور هغه عبادتونه

چې اسلام يې مشروعيت تنصيص کړی وي ، روژه که څه هم د اسلام رکن دی خو مبتدع انسان يې د دې له مخې په داسې کيفيت ونيسي چې د مشروعيت له دائرې څخه يې د نفسي خواهشاتو له مخې وباسي ، لکه ووايي : زه به روژه په ولاړه نيسم او بيخي به نه کينم ، يا زه به د لمونځ په لومړي رکعت کې درې ، يا څلور يا له دې څخه هم زياتې سجدې کوم تر څو الله ته ډېر ګران شم ، ددې پر ځای چې په سجده الله ته تقرب حاصل کړي نور هم لعنتي کيږي ، ځکه چې د مشروع عبادت ديني کيفيت يې بيخي ردوبدل کړ (۱) .

✍ : **دوهم ډول :**

**د کفر او عدم کفر له مخې هم بدعت په دوه ډوله دی ، معنا دا چې کله مبتدع کله په خپل بدعت کافر بلل کيږي او کله نه بلل کيږي ؟**

**حافظ حکمي وايي : په دين کې بدعتونه جوړول دوه ډوله لري :**

➢ **هغه بدعت چې انسان پرې کافر بلل کيږي .**

➢ **هغه بدعت چې د انسان د کفر سبب نه جوړيږي .**

○**بدعت مکفره** **دېته ويل کيږي چې انسان د داسې ديني اړخ نه انکار وکړي چې په ثبوت يې غوڅه اجماع شوې وي ، په شريعت کې په تواتر ثابت وي ، لکه د دين د مفروضاتو ( روژه ، لمونځ ، د حرامو تحليل ، د حلالو تحريمول ، د الله پاک ، يا رسول ﷺ اړوند داسې عقيده ساتل چې هغوی ترې پاک وي .**

(۱) البدعة ، ضوابطها وأثرها السيئ في الأمة : ( ١٦ – ١٨ ) ، د دکتور علي بن محمد بن ناصر الفقيهي ليکنه ، لومړی چاپ ( ١٤٢٣ هـ ٢٠٠٢ م ) دار المنهاج قاهرة .

○غېر مكفره بدعت دېته ويل كيږي چې له كولو څخه يې د قران تكذيبول ، له پيغمرانو څخه انكار منځ ته نه راځي ، لكه د مروان بن الحكم هغه بدعتونه چې صحابه كرامو پرې نيوكې وكړې خو چا هم په كافر ونه نوموو ، او نه يې هم له بيعت څخه ووتل ، لكه د لمونځونو تاخيرول ، د اخترونو په لمونځ خطبه مخكې كول او داسې نور ...

## په بدعت او مبتدعينو د اهل السنت و الجماعت نيوکې

○ عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي : په خلکو هېڅ کله هم کا ل نه نوی کيږي مګر بدعتونه پکې راژوندي کوي او سنت پکې مړه کوي ، او داسې وخت به راشي چې بدعت به ژوندی پاتي شي او سنتونه بل ټول مړه شي(۱) .

○ عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي : مبتدعين مه جوړيږئ ، بلکې پيروکار جوړ شئ ، ستاسو لپاره سنت بسنه کوي (۲).

○ او وايي : د سنت په اداء کولو کې ميانه روي کول په بدعاتو کې د ځان ستومانه کولو نه ډېر بهتر دی (۳).

○ معاذ بن جبل رضي الله عنه وايي :ستاسو تر شا داسې رنګارنګ فتنې را رواني دي چې مالي پانګونې به پکې ډېرې شي ، د قرانکريم مخ کتنه به مومن او منافق دواړه په يو ځېر کوي ، د تير په ځېر به نارينه او زنانه ، مشر او کشر ، ازاد او غلام ټول يو شان وي ، شايد داسې څوک هم وي چې وايي :

---

(۱) البدع والنهي عنها : ( ۳۸ ) .د محمد بن وضاح ليکنه ، چاپ : دار الرائد العربي بيروت دوهم چاپ ( ۱٤۰۲ ھ ) .

(۲) سنن الدارمي : ( ۱ / ٦۹ ) د عبدالله بن عبدالرحمن الدارمي ليکنه ، دار احياء التراث السنة النبوية .

(۳) مستدرک الحاکم : ( ۱ / ۱۰۳ ) د محمد بن عبدالله الحاکم ليکنه ، المکتب الاسلامي څلورم چاپ ( ۱٤۰۳ ھ ) .

خلک زما خبرې ولې نه مني سره له دې چې قرانکريم مې هم لوستلی دی ، تر هغه مې دوي پلوي نه کوي چې تر څو ورته د بدعت ايجاد ونه کړم ، د د غې سړي له ګردو بدعتونو څخه ځان وژغورئ ، د هغوی نوي پېدا کړي کارونه ټوله سراسر بې لاري ده ، د عالم د ديني کږليچونو څخه ځان را بند کړئ ځکه چې په ژبه يې شيطان ډېرې ناکاره خبرې کوي ، او کله ناکله منافق د حق حقانيت خبرې هم کوي (١).

○ سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ وايي : ابليس ته له عامو سرغړونو څخه بدعت ډېر محبوب دی ، ځکه چې د ګناه نه توبه ويستل کيږي او له بدعت نه څوک توبې نه وباسي (٢).

○ له امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ څخه وپوښتل شول چې I تا ته هغه سړی ډېر ګران دی چې لمونځونه کوي او روژې نيسي او په اعتکافونو بوخت وي ، او که هغه څوک درته ګران دی چې د بدعتيانو په مذمت بوخت وي ؟

هغه ځواب ورکړ چې : لمونځونه او روژې او اعتکاف خو د سړي خپل ځاني عمل شو خو ولې په بدعتيانو کې د مذمت بيانونه د عامو مسلمانانو

---

(١) سنن ابي داود : ( ٥ / ١٧ ) د عون المعبود سره ، چاپ دار الفكر للطباعة والنشر ، دريم چاپ ( ١٣٩٩هـ ) .

(٢) البدع الحولية : ( ٣٤ ) د عبدالله بن عبدالعزيز التويجري ليکنه ، چاپ دارالفضيلة رياض ( ١٤٢١هـ ٢٠٠٠مـ ) .

په خير او ګټه دي ، دا ډير له بهتر او له خير نه ډک دی(۱) .

○ شيخ الاسلام ابن تيمية رَحِمَهُ الله وايي : د ټولو مسلمانانو په اتفاق امت له بدعت څخه ويرول لوي فرض او ستر واجب دي (۲).

○ اووايي : دنبوي حديثونو او د علماوو اجماع په رڼاکې ګرد مبتدعين د شهواني رنځونو باندې اخته ګناهګارانو نه بدترين دی ، هغه داسې چې نبي ﷺ د خوارجو سره د وسلوال نظامي بريد تېزي ورکړې ده ، خو د ظالمانو ټولواکانو په ضد غبرګون يې منعه کړېده ، او د شراب خوور اړوند يې هم ويلي ( لاَ تَلْعَنْهُ فَإِنَّهُ يُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ ) لعنت پرې وايه ، دا د الله او د هغه رسول سره مينه لري (۳).

○ اوزاعي رَحِمَهُ الله له حسان څخه نقلوي : کوم قوم چې په دين کې بدعت رواج کړي ، الله ترې په مقابل کې سنت پورته کړي چې تر قيامته به بېرته ورنه کړل شي (۴).

○ ابو قلاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي : څوک چې په دين کې بدعتونه رواجوي په توره يې مرګ واجب دی (۵).

---

(۱) مجموع الفتاوى لابن تيمية : ( ۲۸ / ۲۳۱ ) چاپکال : ۱۳۹۸ هـ، جمع : عبدالرحمن محمد بن قاسم .

(۲) مجموع الفتاوى لابن تيمية : ( ۲۸ / ۲۳۱ ) .

(۳) مجموع الفتاوى لابن تيمية : ( ۲۸ / ۲۳۱ ) .

(٤) السنن المبتدعات : ( ۱۳ ) .

(٥) السنن والمبتدعات : ( ۱۳ ) .

○ عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي : كه ځومره هم خلک ورته ښه ووايي خو په دين کې بدعت ګمراهي ده (۱).

○ ابن الماجشون رحمه الله وايي : ما د امام مالک رحمه الله نه واورېدل : ځوک چې په اسلام کې بدعتونه راپيدا کړي او بيا ورته په ښه نظر هم ګوري ، دا يې عقيده ده چې محمد صلى الله عليه وسلم په دين کې خيانت کړی دی ، او حالانکه الله پاک وايي ( **الْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الاِسْلَامَ دِيْناً** ) د پيغمبر په دور کې چې څه شی دين نه و ، وس هم دين نه دی (۲).

○ امام شافعي رحمه الله وايي : په ښه نيت چې ځوک په دين کې شيان ننباسي له ځان نه يې شارع جوړ کړ (۳).

---

(۱) تلخيص أحكام الجنائز : ( ۸۳ ) . صلاة التراويح ( ۹۳ ) .

(۲) السنن والمبتدعات : ( ۱۵ ) .

(۳) السنن والمبتدعات : ( ۱۵ ) .

## نبي ﷺ ټول امت ته د اړتيا وړشيان بيان کړي دي

الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونتوب اليه ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا ، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له ، واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له واشهد ان محمدا عبده ورسوله ، ارسله الله تعالى بالهدى ودين الحق فبلغ الرسالة وادى الامانة ونصح الامة وجاهد في الله حق جهاده حتى اتاه اليقين ، وترک امته على محجة بيضاء ليلها كنهارها لا يزيغ عنها الا هالک ، بين فيها ماتحتاجه الامة في جميع شئونها حتى قال ابوذر ـ رضي الله عنه ـ ما ترک النبي ﷺ طائرا يقلب جناحيه في السماء الا ذکر لنا منه علما .

وقال رجل من المشرکين لسلمان الفارسي رضي الله عنه علمکم نبيکم حتى الخراءة قال نعم ، لقد نهانا ان نستقبل القبلة بغائط او بول او ان نستنجي باليمين او ان نستنجي برجيع او عظم(١).

د قرانکريم د اياتونو په مبارکو کرښو کې تاسو وينئ چې الله پاک ورپکې ټول اصول او فروع په روښانه انداز ذکر کړي دي ،ان چې د توحيد ټول ډولونه ، ان چې د ناستې پاستې اداب ، د اجازت غوښتلو اصول په دومره تفصيلي توګه ذکرکړي دي چې ورپکې د سوال او پوښتنې ځای نه پيدا کيږي .

---

(١) صحيح مسلم : ( ٢٦٢ ) .

الله پاک په قرانکريم کې د دين ټول اصول او فروع بيان کړي دي :

الله پاک فرمايي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا فِي الْمَجَالِسِ فَافْسَحُوا يَفْسَحِ اللَّهُ لَكُمْ ﴾ (۱)

ژباړه : اى هغه کسانو ! چې ايمان مو راوړى دى ، چې کله هم درته وويل شي چې پخپلو مجلسونو کې پراخوالى راولئ ، نو پراخوالي راولئ ، الله پاک به مو د پراخوالي په نعمت وناز وي .

او الله پاک فرمايي : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَىٰ أَهْلِهَا ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ* فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴾ (۲)

ژباړه : اى هغه کسانو ! چې ايمان مو راوړى دى ، له خپلو کورنو پرته د هيڅ چا کور ته تر هغه مه د اخليږئ تر څو ورته د خپلو ځانونو پيژندګلو ونه کړئ ، او په وسيدونکو باندې مبارکه تحيه ( سلام ) واچوئ ، دغه کار ستاسو لپاره ډېر غوره او پسند دى ، شايد تاسو دا حکم په ياد ولري * او که وريکې هيڅ څوک ونه مومئ نو تر هغه پورې له ننوتو څخه ډډه وکړئ تر څو درته اجازت وکړى شي ، او که درته وويل شول چې له ننوتو څخه بېرته ستانه شئ ، نو بيرته ستانه شئ ځکه دغه ستنېدل ستاسو لپاره له بدنامۍ څخه يوائنې لار ده ، او الله پاک ستاسو په عملونو باندې پوهه دى

(۱) سورت مجادلة : ( ۱۱ ) .

(۲) سورت نور : ( ۲۷ – ۲۸ ) .

ان چې الله پاک د لباس اچونې اداب هم په ښه توګه روښانه کړي دي ، الله تعالیٰ فرمايي ﴿ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ ﴾(۱)

ژباړه : هغه بوډۍ ناځوانه زنانه چې د واده کولو امید نه ساتي هیڅ ګناه پرې نشته که د ډول ډال ښودو پرته خپل پړوني کیږدي .

همدا راز الله پاک فرمايي : ﴿ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾(۲)

ژباړه : ای نبي ﷺ خپلو بې بیانو او لورګانو او د ټولو مؤمنانو زنانوو ته ووایه چې پخپلو ځانونو غټې لوپټې ( پړوني ) اویزان کړئ ، دغه کار دېته زیات نږدې دی چې دغه زنانه ونه پېژندل شي ، نو دوی به بیا هیڅ څوک نه شي تنګولای ، او الله پاک ښښونکی او رحم والا دی .

د تېر په څېر بل ځای الله پاک فرمايي : ﴿وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾(۳)

ژباړه : او دغه زنانه دې خپلې ښپې په ځمکه باندې په زوره نه نږدي ، په دې خاطر چې خپل پټ ښائست خلکو ته وښايي .

---

(۱) سورت نور : ( ٦٠ ) .

(۲) سورت أحزاب : ( ٥٩ ) .

(۳) سورت نور : (۳۱ ) .

همداراز الله پاک فرمايي : ﴿وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَىٰ وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا ﴾(۱)

ژباړه : نېکي دا نه ده چې تاسو کورنو ته له شا څخه راشئ ،بلکې نېکي د هغې چا ده چې له الله پاک څخه ويرېږي اوکورنو ته هم له دروازو له اړخه ننوځي.

او داسې نور قراني اياتونه چې دا په ګوته کوي چې اسلامي دين کامل او هر څه ته شامل دی ، له دغې شموليت له کبله هېڅ راز زيادت ته اړتيا نه لري ، لکه څنګه چې نقصان ته اړتيا او احتياج نه لري ، په دغې منظور الله پاک د قران کريم په صفت کې فرمايي : ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾(۲)

ژباړه : او مونږ تا ته داسې کتاب نازل کړی دی چې د هر شي لپاره بيان او څرګندونکی دی .

د دنيا پر مخ داسې هېڅ شی شتون نه لري چې ورته خلک اړين وي مګر د دغې شي يادونه الله پاک په قرانکريم کې نصاً ، يا اشارةً ، او يا هم منطوقاً کړې ده .

(۱) سورت بقرة : (۱۹۰) .

(۲) سورت نحل : ( ۸۹ )

## د ﴿مَافَرّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِن شَيْءٍ﴾ کې د ناروا تفسيرونو نمونې

* محترمو ورنو ! څه داسې خلک شته چې هغوی د الله پاک دا قول داسې تعبيروي چې ﴿وَمَا مِن دَابّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا طَائرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ اِلّا اُمَمٌ اَمْثَالُکُم مّا فَرّطْنَا فِي الْکِتَابِ مِن شَيْءٍ ثُمّ اِلَیٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ﴾ (۱)

ژباړه : د ځمکې پر مخ هېڅ قسم زنده سر نشته او نه مرغې شته چې پخپلو وزرونو الوتل کوي مګر دا چې ستاسو په څېر امتونه او ډلي دي ، مونږ په لوح محفوظ کې هېڅ راز نيمګړتياوې نه دي پرېښې ، او بيا به دغه ټول امتونه الله پاک ته راجمع کړی شي .

دغه ځينې خلک د الله پاک د دغې قول په هکله داسې انګيروي چې ﴿مَافَرّطْنَا فِي الْکِتَابِ مِن شَيْءٍ﴾ نه مراد قرانکريم دی ، خو ولې سمه او دروسته خبره دا ده چې له دېنه مراد لوح محفوظ دی ، او هغه داسې چې الله پاک د قرانکريم اړوند له نفي څخه هم زياته مبالغه کړې ده ، الله پاک فرمايي : ﴿وَنَزّلْنَا عَلَيکَ الْکِتَابَ تِبْيَانًا لّکُلّ شَيْءٍ﴾

د الله پاک دغه قول د قرانکريم په هکله له دې قول څخه چې ﴿مَافَرّطْنَا فِي الْکِتَابِ مِن شَيْءٍ﴾ نه ډېر واضح او له بيان څخه ډک دی .

---

(۱) سورت أنعام : ( ۳۸ ) .

## ايا په قرانكريم د روزمره لمونځونو وختونه شتون لري ؟

شايد داسې خلک به هم وي چې دا ګمان به چې كه قرانكريم همدغسې له بيان څخه ډک وي نو مونږ به د قرانكريم له كومو اياتونو څخه د روزمره پنځه وخته لمونځونو مواقيت ـ وختونه ـ تر لاسه كړو ؟
او ايا همدغه سمه كېداى شي چې دغه عدد مونږ په رښتيا هم لاس ته راوړ ؟ سره له دې چې الله پاک فرمايي : ﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيكَ الْكِتَابَ﴾
جواب : مونږ الله پاک پخپل كتاب كې په دې مكلف كړي يو چې د رسول الله ﷺ پيروي وكړو ، الله پاک په دغه هكله فرمايي : ﴿مَنْ يُّطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّهَ﴾ (۱)
ژباړه : څوک چې د رسول الله ﷺ پيروي وكړي نو يقيناً چې هغه د الله پاک پيروي وكړه .
او الله فرمايي :﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُوُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُواْ﴾ (۲)
ژباړه : چې رسول الله ﷺ درته هرڅه دركوي هغه واخلئ ـ عملي كړئ ـ او چې له څه شي مو منعه كوي له هغې نه ځان را وژغورئ .
نو هر هغه څه چې ورباندې حديث ښكاره دلالت كوي ، قرانكريم هم ورباندې دلالت كوي ، او هغه دا چې حديث ـ سنت ـ پخپله د وحي يوه نوعه

---

(۱) سورت نساء : ( ۸۰ ) .
(۲) سورت حشر : ( ۷ ) .

ده ، چې الله پاک رسول کريم ﷺ ته ښودلې او ورباندې يې نازله کړېده ، په همدغه اړه الله پاک فرمايي : ﴿ وَأَنزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ ﴾ (۱)
ژباړه : او الله پاک په تاباندې کتاب او سنت دواړه نازل کړيدي .
نو له دې اياتونو څخه جوته شوه چې څه شي هم په نبوي حديثونو کې ثابت شي داسې دي لکه ثبوت يې چې په قرانکريم کې راغلی وي .

---

(۱) سورت نساء : ( ۱۱۳ ) .

## له نبي ﷺ څخه د باندې چيانو
## په پوښتنو د صحابه کرامو خوشحالېدل

* محترمو ورنو ! ايا دا خبره ستاسو ذهن مني چې نبي ﷺ له دنيا څخه کوچ کړی دی او دين ورڅخه نيمګړی پاتې دی ؟

نا هېڅکله نا ، بلکې نبي ﷺ ټول دين مبارک په خپل قول ، او عمل او اقرار کې او يا هم د سوال جواب له لارې خلکو ته په ګوته کړی دی ، ان چې الله پاک به ځينې داسې موقعه د نبي ﷺ ملګرو ته رابرابروله چې د ديني اړوند چارو کې به يې د مزيد توضيح او بيان لپاره يو باندې چې د نبي ﷺ په وړاندې عرض شو ، او ورڅخه به يې خپلې د اړتيا وړ پوښتنې وکړې ، چې د نبي ﷺ د نزدې ملګرو به هم دغه پوښتنې په ذهني محيط کې نه وې .

حتی چې صحابه کرامو به په دې د خوشحالي اظهار هم کوو ، چې نبي ﷺ څخه د صحابوو په حضور کې يو اعرابي د ديني امورو په رابطه پوښتنې وکړي .

د تېر په څېر الله پاک فرمايي : ﴿الْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَ رَضِيْتُ لَكُمُ الاِسْلَامَ دِيْناً﴾ (۱)

ژباړه : ستاسو لپاره مې نن ورځ دين بشپړ او مکمل کړ ، او ستاسو لپاره په

---

(۱) سورت مائده : ( ۳ ) .

اسلام باندې د دين په توګه راضي يم .

له همدې ايت څخه راته جوته کيږي چې نبي ﷺ هيڅ داسې شی نه دی پريښی چې خلک ورته په زياته اړتيا کې وي او هغه يې بيان نه وي کړی ، که دغه شی په عباداتو کې وي او که د معاملاتو پورې اړه لري ، او که دغه شی د ژوند ژواک په نورو مهمو برخو پورې تړاو لري ، مګر دا چې په کافي اندازيې د هغې بيان کړی دی .

## بدعت جوړونه په دين کې د لعن طعن عقيده ده

مسلمانه وروره ! چې کله هم ستا عقل دغه تېره خبره ومنله ، په دې هم پوهه شه چې هر هغه څوک چې په اسلامي شريعت کې نوي پېوندونه پيدا کوي ، ولو که دغه کار هغه په ښه او نيک قصد سره کوي ، خو دغه پېوندونه او بدعات له يوې خوا په اسلامي دين کې طعن هم بلل کيږي ، او له بلې خوا دغه پېوندونه لګول د الله پاک په دې ﴿الْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَ رَضِيْتُ لَكُمُ الاِسْلَامَ دِيْناً ﴾ (١) قول کې تکذيبول هم دي.

ځکه دغه مبتدع انسان چې د الله پاک په دين کې يې بدعت پيدا کړی دی په دې عقيده دی چې الله پاک راستولی دين پوره او بشپړ نه دی ، دا داسې معنی ورکوي چې دغه شريعت ناقص دی او دغه ورپورې تړتړه د دغې نيمګړتياو بشپړتيا ده ، د دغې خاليګاه تکميل دی ، په دې معنی چې دغه بدعت همدا وس دغې مبتدع انسان کشف کړ ، په دې خاطر چې ورباندې خپل ځان الله پاک ته نږدې کړي .

د ډېر زيات تعجب خبره ده چې انسان په اسلامي دين کې د بدعت پيدا کولو ځای ګوري ، په ځانګړي توګه هغه بدعت چې د الله پاک د ذات پورې تړاو لري ، يا د الله پاک د صفتونو سره رابطه ولري ، او چې د دغې

(١) سورت مائده : ( ٣ ) .

بدعت ترڅنګ لا بیا د دې دعوه هم کوي چې دا دالله پاک حق تعظیم کوي او له ثبوت سره سره یې تنزیه هم کوي ، ترڅنګ یې د الله پاک د دې قول منونکی دی چې ﴿فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلهِ اَنْدَاداً وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ﴾ (١)
ژباړه : تاسو د الله پاک لپاره هیڅ راز شریکان مه ګرځوئ او حالانکه تاسو ته ښه معلومات شته دی .
نو له دغسي بدعت ځخه به ته خامخا تعجب کوې چې نه یې سلف صالحینو ملاتړ کړی وي او نه د دین امامانو پرېې قول کړی وي ، او چې لا بیا دغه بدعت د الله پاک د ذات پورې تړاو لري ، او دغه مبتدع په دې هم ټینګ ولاړ وي چې زه د الله پاک حق تعظیم کوم ، او د دې قول چې ﴿فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلهِ اَنْدَاداً وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ﴾ په صحیح توګه منونکی یم ، او د دغې مبتدع انسان په زعم او ګمان که څوک یې مخالفت وکړي ، یا خو به یې په ممثل نوموي ، او یا به هم ورته د مشبه نوم ورکوي ، او یا به یې په داسې نورو القابو نوموي چې په اسلامي دائره د شخص په عدالت کې تور بلل کیږي .
د تیر په څیر له دغې مبتدعینو ځخه دا هم د تعجب ځخه ډکه خبره ده چې د الله پاک په راستولي دین کې به داسې بدعت پیدا کوي چې د نبي ﷺ د شخصیت پورې مربوط وي ، او بیا د دغې بدعت سره سره په دې هم ټینګ ولاړ وي چې زه د نبي ﷺ کلک پیروي او د هغه سره مینه او محبت کوم ، په حق کې یې د مناسب تعظیم قایل یم .

---

(١) سورت بقره : ( ٢٢ ) .

خو ولې که څوک د دغې مبتدع انسان مخالفت وکړي په دې يې تورن کوي چې دغه مخالف انسان د نبي ﷺ د شخصيت سره تر ټولو ستر ګوستاخ ، مبغض او کينه ګر دی .

او په نور داسې ورته بدو القابو يې نوموي چې نور عوام ترېنه په اسانه زړه توري کيږي ، په ځانګړې توګه هغه خلک چې ورسره هېڅکله هم د دغې بدعت په منلو د توافق او موافقې لاره نه خپلوي .

د تعجب بله خبره دا ده چې همدغه مبتدعين د دې کلک دعوېدار دي چې مونږ د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ تعظيم او قدر کونکي يو .

او په دې کې خو هېڅ شک نشته چې کله دغه مبتدعين په اسلامي شريعت کې بدعت پيدا کړي ، نو دوی د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ بې احترامي او بې عزتي وکړه .

او الله پاک فرمايي : ﴿ يَاَيُّها الّذِيْنَ امَنُواْ لاَ تُقَدِّمُواْ بَيْنَ يَدَيِ اللهِ وَ رَسُولِه وَ اتّقُواْ اللهَ اِنّ اللهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴾ (١)

ژباړه : ای هغه کسانو چې ايمان مو راوړی دی ، د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ په وړاندې مخکېوالی مه کوئ ، او له الله څخه وېرېږئ په يقين سره چې الله پاک اورېدونکی او پوهه دی .

محترمو ورنو ! زه له تاسو څخه يوه پوښتنه کوم خو ځواب بايد ستاسو له عواطفو څخه نه بلکې ستاسو له ضمائرو څخه وي ، او ځواب ستاسو د تقليد له غوښتلو څخه نه بلکې ځواب ستاسو د اسلامي دين له غوښتنو

---

(١) سورت الحجرات : ( ١ ) .

څخه وي ، او هغه پوښتنه دا ده چې :

تاسو د هغه شخص اړوند څه فکر لرئ چې هغه د الله پاک په رالیږلي دين کې بدعت جوړوی ، خوا که دغه بدعت د الله پاک د ذات پورې اړه لري ، او که د نبي ﷺ د شخصيت پورې اړه لري ، او د دغې تر څنګ د دې هم کلک دعوېدار وي چې مونږ د الله پاک او د هغه د رسول کريم ﷺ حق تعظيم او احترام کونکي يو ، ايا دغه خلک ( مبتدعين ) د الله پاک او د هغه د رسول کريم ﷺ په بشپړه توګه پيرويان بلل کيدای شي ؟

او که نه هغه خلک د الله پاک او د هغه د رسول کريم ﷺ کلک پيروان دي چې د الله پاک د رالیږلي شريعت څخه د ميږي قدرې اندازه سرغړونه هم نه کوي ؟

او ورسره د دې کلک شعار ورکوي چې څه هم په اسلامي شريعت کې وي په هغې زمونږ پياوړی ايمان دی ، او په څه چې راته له مغيباتو له جملې څخه خبر راکوي په هغې مو د تصديق مضبوطه عقيده ده ، او هغه اوامر او نواهي چې مونږ مکلفينو ته متوجه دي ورته لاس په سينه او ورته کلک ژمن يو .

او د بدعاتو اړوند خپله فکره داسې څرګندوي چې هر هغه څه چې په اسلامي شريعت کې رښتنی ثبوت ونه لري ، مونږ يې مهمل بولوو ، او ورباندې هېڅکله هم عمل نه کوو، او د الله پاک او د هغه د رسول په وړاندې د مزاحمت او شوخې څخه خپل ځانونه رانغاړو ، او کوم شيان چې د اسلامي شريعت په دائره کې شتون نه لري ، هېڅکله يې د منلو قايل نه

يو .

د دې دواړو ډلو ترمنځ څوک د الله پاک او د هغه د رسول كريم ﷺ په مينه او محبت ډېر حقدار دى ؟

او څوک يې مينې ته ژمن دى ؟

او بيا د دغې دواړو ډلو ترمنځ څوک د الله پاک او د هغه د رسول كريم ﷺ حق تعظيم كونكى دى ؟!

كه د حقيقت په سترګه وګورو ځواب هم داكيداى شي چې په دغې دواړو ډلو كې د الله پاک او د هغه د رسول د محبت جوګه هغه طبقه ده چې د الله پاک او د هغه د رسول په دين كلک باوري وي ، د شريعت كوم اوامر چې ورته متوجه وي عملاً يې په دنياوي ژوند ژواک كې تطبيقوي ، او له نواهيو څخه د خپل نفس ټولې غوښتنې رانغاړي ، او په لوړ اواز داسې وايې چې :

موږ پخپلو ځانونو او ضميرونو كې ډېر زيات قليل القدر يو له دې څخه چې د الله پاک او د هغه د رسول كريم - صلى الله عليه وسلم - په راوړې دين او شريعت كې د خپل نفسي خواهشاتو په سمون لړل تپل وكړو ، او يا هم وريكې بل داسې بدعت ورننباسو چې د دين له اجزاؤ څخه نوي ، دروسته خبره ده چې څوک هم خپل قدر وپېژني نو د خپل خالق قدر او قيمت هم پېژني .

همدغه خلک د الله پاک او د هغه د رسول كريم ﷺ صحيح تابعدار او پوره قدر كونكي دي ، او د زړه له كومي د الله پاک او د هغه د رسول كريم ﷺ

**په حق کې د رښتيا مينې اظهار کوي .**

## په (كُلُّ بِدْعَةٍ) کې کليت عام تام او شامل کليت دی

خو له بل اړخه هغه خلک چې پخپلې عقيده ، قول او عمل کې داسې بدعتونه رواجوي چې د اسلامي دائرې څخه نه شميرل کيږي ، او د نبي - صلى الله عليه وسلم - په دې قول هم ښه خبر وي چې ( وَشَرُّ الْأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا ، وَكُلُّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ ، وَكُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ ) (١) .

.

ژباړه : په دين کې مو ځانونه له نوي شيانو څخه وساتئ ، ځکه هر نوی شی په دين کې بدعت وي ، او هر بدعت ګمراهي ده ، او هره ګمراهي په اور کې وي .

او دغه مبتدع په دې هم ډېر ښه پوهيږي چې ( وَكُلُّ بِدْعَةٍ ) کې کليت عام او شامل دی ، چې د عموم ټولو ادواتو ورپکې ځای نيولی دی .

نبي ﷺ تر ټولو عربانو فصيح او بليغ انسان و ، په (وَكُلُّ بِدْعَةٍ) باندې نبي ﷺ نطق کړی دی ، او هغه ښېرته د دې کلمې په معنی او مدلول هم ډېر زيات ښه پوهېده ، او کله چې هم يو سړی د چا خېرخواه وي نو په داسې کلماتو ورته نه غږيږي چې هېڅ مقصد او مفهوم ونه لري .

له دغې تحقيق څخه دا جوته شوه چې نبي ﷺ په (وَكُلُّ بِدْعَةٍ ) باندې تلفظ کړی دی ، هغه د دې کلمې په مفهوم او معنی ډېر ښه پوهېده ، او

---

(١) سنن النسائي : ( ١٥٧٨ ) .

**ورڅخه دا کلمه د ډېرې زياتې خيرخواهي او د کامل نصيحت په توګه دامت لپاره صادره شوېده .**

## هغه درې امور چې د كلمې په خپلې معنى دلالت كوي

خو چې كله هم په يوه خبره كې لاندېني درې امور سره راغونډ شي ، بيا له دغې كلمې څخه مقصوده معنى مراد وي ، او دغه درې شيان په لاندې توګه دي :

١ – د نصيحت او ارادې كمال .

٢ – د بيان او فصاحت كمال .

٣ – د علم او معرفت كمال .

ايا له دغې كليت څخه وروسته هم لا دا سمه كيداى شي چې بدعت په درې يا پنځه ډوله دى ؟؟

ايا په دين كې بدعت حسنه شته دى ؟

نا هېڅكله دا سمه نشي بلل كيداى ، اوكوم علماء چې د حسنه بدعت قايل دي نو هغه به له دوو حالتونو څخه خالي نوي :

١ – دغه كار بدعت نه وي خو ورباندې يې د بدعت ګمان كړى وي.

٢ – دغه كار په حقيقت كې بدعت وي او په بدعت كې دا بدترينه نوعه ده ، خو دومره ده چې مبتدع انسان يې په بدوالي نه پوهيږي .

كه څوک هم د بدعت حسنه قايل وي له همدې څخه پرته يې بل جواب نشي كيداى .

## نبوي پرېکنده او غوڅانده توره

د تېرې څېړنې پايله هم دا شوه چې د هېڅ بدعتي انسان لپاره دا د مناسب وړه خبره نه ده چې خپل بدعت ته حسنه بدعت ووايي حالانکه چې زمونږ په لاس کې د نبي ﷺ څخه راپاتې او تل پاتې وژونکې توره ده چې (وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ) او دا هغه پياوړې توره ده چې د نبوت او رسالت په شرکتونو کې جوړه شوې ده ، هسې په ګډو وډو او نا معلومو شرکتونو کې يې نه ده تياره شوې ، او رنګ يې هم هغه اصيل رنګ دی چې نبي ﷺ ورته پخپله ورکړی دی.

او دا هېڅ کله هم نشي کېدای چې د يو باتور او اتل په لاس کې دې دغه دردونکې او څېرونکې توره (وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ) وي او په مقابل کې يې بدعتي انسان خپل ځان او سر د حسنه بدعت تش د ډال په نوم د ځان ساتنه کوي.

## د عمر ﷛ د قول ﴿نِعمَتِ الْبِدْعَةُ هَذِهِ﴾ نه ځواب

زه په دې ډېر ښه پوهېږم چې ستاسو په نفسونو کې به دا خبره ګرځي را ګرځي چې ايا عمر بن الخطاب ﷛ چې کله ابي بن کعب او تميم الداري ﷄ په دې مکلف کړل چې د رمضان مبارکې مياشتې تراويح د عوامو لپاره د جماعت په صورت اداء کړي ،خو چې بيا يې دوی ټول په اجتماعي توګه د تراويح په لمونځ وليدل نو عمر بن الخطاب ﷛ وويل : ﴿نِعمَتِ الْبِدْعَةُ هَذِهِ﴾ ايا د عمر بن الخطاب ﷛ دغه کار هم بدعت شمېرل کيږي؟

جواب : د دې خبرې جواب له دوو اړخونو څخه کېدای شي :

١ – د هيڅ چا لپاره د دې جواز نشته چې د نبي ﷺ د قول او خبرې په مقابل کې د ابوبکر ﷛ قو ل چې د نبي ﷺ څخه وروسته لومړی غوره صحابي دی ، يا د عمر بن الخطاب ﷛ چې دوهم غوره صحابي دی ، يا عثمان بن عفان ﷛ چې دريم غوره صحابي دی ، يا علي بن ابي طالب ﷛ چې څلورم غوره صحابي دی ، د دوې قول واخلي ، ځکه چې الله پاک فرمايي : ﴿فَلْيَحْذَرِ الّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ اَمْرِهِ اَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيمٌ﴾ (١)

ژباړه : هغه کسان چې د نبي ﷺ د امر مخالفت کوي ، له دې څخه دې

---

(١) سورت نور : ( ٦٣ ) .

وړار شي چې ورته فتنه او يا دردناک عذاب ورسيږي .
امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ الله وايي : ايا تاسو پوهيږئ چې فتنه څه شي دی ؟ له فتنې څخه شرک مراد دی ، نو معنی دا شوه چې : که يو سړی د نبي ﷺ له ويناو څخه په څنګ هم شي نو په زړه کې به يې کوږوالي راشي ، او هلاک به شي .
عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي : ډېره نزدې ده چې د رباندې له اسمان څخه د کاڼو باران و وريږي چې زه درته وايم نبي ﷺ فرمايي ، او تاسو وايئ چې ابوبکر او عمر رضي الله عنهما داسې وايي .
٢ – مونږ په دې خبره کلک باوري يو چې امير المؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه له ټولو خلکو څخه د الله پاک او د هغه د رسول کريم ﷺ د خبرې اړوند زيات تعظيم کونکی او منونکی انسان و .
هغه په دې هم زيات مشهور و چې د الله پاک د راليږلو حدود په وړاندې به يې له زيات اهتمام څخه کار اخست ان چې په ( **وقّاف** ) باندې ونومول شو .
هغه مهال چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه د مهرونو په رابطه يې خپله رايه څرګنده کړه ، سمدستي يوې ښځې په دې ايت جواب کړ چې ﴿**وَاٰتَيْتُمْ اِحْدَاهُنَّ قِنطَاراً**﴾ (١) .
نو هغه سمدستي له خپلې رايې څخه راستون او په شا شو .
اګر چې د دې واقعې په صحت او عدم صحت کې د علماوو کلام هم شته .

(١) سورت نساء : ( ٢٠ ) .

خو بهر حال عمر ﷺ - د الله پاک د حدودو په هکله زيات ( وقّاف ) انسان و په دې معنى چې هغه د الله پاک په حدودو او په ممنوعه علاقو باندې د تعدى او زياتي کولو هېڅ کومه اراده نه لرله .

دا هم د عمر بن الخطاب ﷺ سره هېڅ مناسب نه دي چې د پيغمبر ﷺ د قول خلاف وکړي او يا هم بدعت ته بدعت حسنه ووايي ، سره له دې چې همدغې بدعت ته نبي ﷺ بدعت او ګمراهي ويلې ده ، نو ورڅخه دا جوته شوه چې هغه بدعت چې ورته عمر ﷺ بدعت حسنه - ويلاى دى ، له هغې بدعاتو له جملې څخه نه دى چې ورته نبي ﷺ ګمراهي او بې لاري ويلې ده .

د عمربن الخطاب ﷺ مراد خو له بدعت څخه دا و چې له متفرقه لمونځ کولو څخه يې خلک د لمونځ په اجتماعي توګه اداء کولو ته راوستل ، ورنه د رمضان د مياشتې تراويح خو د نبي ﷺ په امامتۍ کې د عائشي ﷺ په روايت ثابت دي ، په صحيحينو کې راځي چې نبي ﷺ د رمضان د مياشتې د تراويحو امامتي درې شپې وکړه خو په څلورمه شپه راونه وت او وويل : ( لَكِنِّي خَشِيتُ أَنْ تُفْرَضَ عَلَيْكُمْ، فَتَعْجِزُوا عَنْهَا ) (١)

ژباړه : زه په دې ويرېدم چې داسې نه قيام الليل درباندې فرض نه شي ، چې تاسو به يې بيا له قيام څخه ناتوانه او عاجز ياست .

د قيام الليل په جماعت سره اداء کو ل د نبي ﷺ ثابت سنت دي ، او عمر

(١) صحيح البخاري : ( ٩٢٤ ) . صحيح مسلم : ( ٧٦١ ) .

ﷺ ورته په دې اعتبار بدعت ویلي دي چې کله هم نبي ﷺ قیام اللیل پرېښود نو چا به قیام اللیل یک تنها کول ، چا سره به دوه نفره وو ، چا سره به زیات وو ، نو امیر المؤمنین ﷺ ورپکې خپله دغه رایه څرګنده کړه چې باید ټول خلک د یو امام په قومانده او امامت کې دغه قیام اللیل تر سره کړي .

جوته شوه چې دا اعتباري او اضافي بدعت دی ، مطلق او انشایي بدعت نه دی چې عمر بن الخطاب ﷺ له خپل خواهش سره سم د خلکو منځ ته راوست ، او یا هم د نبي ﷺ په وخت او عهد کې یې شتون نه لرو .

بلکي قیام اللیل سنت دي ، نبي ﷺ یې د فرضیت له ویرې پریښي و ، او عمر ﷺ بېرته دغه سنت راژوندي کړل .

دا مسئله هېڅکله بدعتیانو ته د دې موقع نه ورکوي چې د خپلو بدعتونو د ثبوت لپاره یې د خلکو مخې ته د دلیل په توګه کیږدي .

## ايا اجماع او بدعت حسنه سر يو ځای کېدای شي ؟

* شايد څوک به دا هم وايې چې : وسمهال د سترګوله نظره داسې شيان راځي چې نه خو د نبي ﷺ په دورحيات کې و او له بل اړخه د خلکو ترمنځ هم پرمختللي ګامونه او په زړونو کې ورسره برسېره پر دغې مينه او محبت هم لري ، لکه ديني روزنتونونه ، مدارس ، ليکوالي او نور داسې شيان چې ورسره په يو ځېر دي چې هم ورته ټول مسلمانان حسنه بدعت وايي او هم وربانديې عمل کوي او هم يې له غورييزو چارو څخه بولي ، له دغې څخه پوښتنه دا پيدا کيږي چې دا له کوم پلوه سمه بلل کېدای شي چې د يو شي په حسن دې مسلمانان له يو اړخه اجماع کوي او له بلي خوا همدغې شي ته نبي ﷺ بدعت ويلي وي ؟ او د ضلالت او ګمراهي په نوم يې نومولي وي ؟

جواب : ديته هېڅ کله بد نه شي ويل کيدای ، دغه او دغې ته ورته نور شيان په وسائلو نومول کيږي ، او وسائل د وخت او مکان په تغيير سره راز راز بدلونونه خوري ، او دا هم اصولي مسلّمه قاعده ده چې وسائل د مقاصدو په څېر احکام لري ، معنی دا چې د مشروع شيانو وسائل حلال او روا دي ، بالعکس د ناروا شيانو وسائلو ته د نفس حرمت او ناروا ګوته نيول سمه ده. د تېر په څير که دخير کار د حرام کار لپاره ذريعه اويا هم پل جوړيداي شي ، نو د شريعت له نګاه نه دغه د خير کار هم حرام او لويه سرغړونه ده.

الله پاک فرمايې : ﴿ وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّـهِ فَيَسُبُّوا اللَّـهَ عَدْوًا

بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾ (١) .

ژباړه : او هغه چاته سپکې سپورې مه وايئ چې د الله پاک نه ماسوا د بل چا عبادت كوي ، ګنې دغه خلک به الله پاک ته هم په ناحقه باندې سپورې ستغې ووايي .

نو د مشركانو باطل معبودان په سپكه يادول تېرى او تجاوز نه بلكې حق او سم كار دى ، خو الله پاک ته سپورې ستغي ويل ناسم ، تجاوز ، او ناحقه كار دي ، نو په دې منظور چې د مشركينو باطل او غير حق معبودان په سپكه لهجه يادول محمود كار دى ، خو ولې له دغې محمود كار نه بل ناروا او حرام لازميږي چې هغه الله پاک ته كنځاوې او بدې ردې ويل دي ، پايله هم دا شوه چې همدغه ناروا او حرام په ناروا او حرامو يادول هم ممنوع او حرام وبلل شول .

دا دليل مي په دې خاطر ذكر كړ ، چې وسائل د مقاصدو په څېر احكام لري ، اګر چې روزنتونونه او ليكوالي د نبي ﷺ په دورحيات كې نه و ،خو دومره ده چې دغه دواړه شيان وسائل دي او لږ وړاندې مو وويل چې وسايل د مقاصدو په څېر د حليت او حرمت احكام لري .

د مخكې وينا په اساس كه څوک د حرامو علمونو د زده كړې لپاره درسګاه يا ښونځى او پوهنځى تاسيس كړي ، نو د دغې ابادۍ ترسره كول حرام دي ، ناروا دي ، خو كه څوک درسګاه د شرعي علومو د زده كړې او يا په دې خاطر جوړه كړي ، نو دغه كار يې حلال او انساني خليقه بلل كيږي .

---

(١) سورت أنعام : ( ١٠٨ ) .

## د (مَنْ سَنّ فِي الْاِسْلَام سُنّةً حَسَنَةً...) حدیث نه ځوابونه

* که څوک دا وایي چې د نبي ﷺ د دې قول سره به څه کوئ چې (مَنْ سَنّ فِي الْاِسْلَامِ سُنّةً حَسَنَةً، فَلَهُ اَجْرُهَا، وَاَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَيْرِ اَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئاً) (١)

ژباړه: څوک چې په اسلام کې ښه سنت راپیدا کړي، د دې لپاره د سنت د راپیدا کولو اجر دی، څوک چې پرې عمل کوي دا ورسره په ثواب کې شریک دی.

لومړی جواب: چا چې دا خبره کړېده چې (مَنْ سَنّ فِي الْاِسْلَامِ سُنّةً حَسَنَةً) هغه دا خبره هم کړېده چې (كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ) او دا هېڅکله هم نه شي کېدای چې له صادق المصدوق ﷺ نه دوه متضادې ویناګانې صادرې شي په داسې حالت کې چې یوه د بلې تکذیب کوي، او نه دا امکان لري چې د نبي ﷺ د احادیثو ترمنځ دې نقض او مناقضه وي، او نه دا کېدای شي چې د نقض او مناقضې سره دې دواړو حدیثونو څخه یوه معنی مراد واخستل شي.

(١) سنن النسائي: (٢٥٥٤).

## د الله پاک او د هغه د رسول د کلام ترمنځ هېڅ تضاد نشته

او که څوک په دې اند وي چې د الله پاک او د هغه د رسول کريم ﷺ د کلام ترمنځ د تضاد او منافات نمونې شتون لري ، او دا قضيه هم له دغې ډول څخه ده ، نو دغه انسان دې تجديد نظر وکړي ، ځکه دغسې نظريات د انساني قصور او تقصير پايلې دي ، ورنه د الله پاک او د هغه رسول ﷺ د کلام ترمنځ هېڅ راز نقض او تناقض ، اختلاف او تېرې نشته .

له دغې مخکنۍ څېړنې څخه دا جوته شوه چې د ( كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ ) حديث د (مَنْ سَنّ فِي الْاِسْلَامِ سُنّةً حَسَنَةً...) د حديث سره هېڅ راز تناقض ، اختلاف ، او تېرې هېرې نه لري ، ځکه چې نبي ﷺ فرمايي : (مَنْ سَنّ فِي الْاِسْلَامِ سُنّةً حَسَنَةً...) او بدعت بالکل اسلام نه دی ، بلکې بدعت د اسلام ضد دی ، او بيا فرمايي : ( سُنّةً حَسَنَةً ) او بدعت بيخي حسن نه دی ، بلکې بدعت ګمراهي او بې لارې ده .

او په دې کې شک نشته چې سنت او بدعت سره پخپل منځ کې ستر توپير لري .

<u>دوهم جواب</u> : دا جواب هم تر يو حده پورې سم او دروست دی ، ځکه چې د ( مَنْ سَنّ فِي الْاِسْلَامِ سُنّةً حَسَنَةً...) معنى او صحيح مفهوم به دا شي چې چا د وخت په تېرېدو پاتې مړه شوي سنّت بېرته دوباره راژوندي کړل ، پايله هم دا شوه چې څنګه بدعت اضافي او نسبي کېداى شي ، د همدغې په څير

( سَنَّ ) هم نسبي او اضافي کېداى شي ، د هغه چا په حق کې چې مړه شوي سنّت يې بېرته را ژوندي کړي وي .

دريم جواب : دا جواب تفصيلي جواب دى چې د دې حديث په اصل سبب دلالت هم کوي چې ځيني خلک د نبي ﷺ در ته حاضر شول او د تنګ دستۍ اثار او نښې نښانې پرې له ورايه تر سترګو کېدې ، د دوى لپاره نبي ﷺ د تبرع پېشکش او پېشنهاد وکړ ، همغه و چې يو انصاري سړي د سپينو زرو امياني راوړه ، نزدې وه له لاس څخه يې پرېوځي ، او د نبي ﷺ په وړاندې يې کېښوده ، د خوشحالۍ او خوښۍ اثرات او نورې نښې نښانې د نبي ﷺ په مخ کې وبرېښېدې ، او بيا يې وويل : (مَنْ سَنَّ فِي الْاسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً ، فَلَهُ اَجْرُهَا ، وَاَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَيْرِ اَنْ يَنْقُصَ مِنْ اُجُورِهِمْ شَيْئاً )

نو د حديث د ښکاره دلالت له مخې د ( سنّ ) معنى تنفيذ ده ، تشريع نه ده ، او د ( كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ ) د حديث د مدلول له مخې تنفيذ هېڅکله په تشريع نه نومول کيږي .

## د عمل د نېکوالي شپږ شرطونه

* محترمو ورنو ! تاسو بايد په دې خبره سم او ښه وپوهېږئ چې له شپږو شرطونو پرته عمل هېڅکله هم قابل قبول نشي جوړېداى :

**لومړى :**

سبب - : چې کله هم يو څوک د الله پاک عبادت د شرعي سبب پرته انجام کړي ، د اسلامي شريعت په قاموس کې ورته بدعت ويل کيږي ، د نمونې په توګه که څوک د رجب د مياشتې اوويشتمه شپه ټوله په عبادت روڼه کړي ، په دې قصد چې نبي ﷺ په دغه شپه د معراج مبارک سفر ترسره کړى دى او اسمان ته ښتلى دى ، نو تهجد چې اسلامي شريعت ورته لوړ او ستر مقام ورکړى دى ، د داسې غير شرعي سبب له کبله چې اسلام يې نه پيژني په بدعت ونومول شو .

ځکه چې دغه عبادت په داسې سبب بناء شو چې هېڅ راز شرعي حيثيت نه لري ، او دغه وصف ( چې عبادت بايد د شريعت له پلوه سبب سره سمون وخوري ) ډېر زيات اړتيا وړ وصف دى ، او په دې باندې د ډېرو زياتو مبتدعينو بدعتونه څرګنديږي ، ولي هغوي خو يې خپله له شريعت څخه بولي خو په حقيقت کې د اسلامي چوکاټ څخه بهر او خارج وي .

**دوهم :**

جنس - : دا هم ډېر زيات ضروري ده چې بايد عبادت جنساً د شريعت سره

هېڅ تکراو ونه لري ، د بېلګې په توګه که څوک د الله پاک داسې عبادت وکړي چې په اسلامي شريعت کې يې فرضيت ثبوت ونه لري ، نو دغه عبادت مقبول نه بلکي مردود دی .
د بېلګې په توګه که څوک په اس باندې قرباني وکړي ، د دغې انسان دغه عبادت مقبول نه بلکې مردود دی ، په دې معنی چې دغې انسان په داسې جنس قرباني وکړه چې په اسلامي شريعت کې هېڅ جواز نه لري .
له دغې شنني څخه همدا جوته کيږي چې قرباني په ميښين ، غويين او بيزين مال کيږي او بس .

دريم :

اندازه - : که يو انسان د شريعت ټاکلي مقدار او معلومې کړې اندازې څخه اضافه والی په دې خاطر وکړي چې الله پاک ته پري له نورو انسانانو څخه زيات نزدې شي ، نو دغه عمل پخپل صاحب باندې رد او مردود دی .
د مثال په توګه : که څوک د ماسپښين څلور رکعتيز لمونځ الله پاک ته د زيات تقرب په منظور پنځه رکعتيز کړي په دې اجتهاد چې دغه لمونځ عبادت دی ، نو د تېر په څېر د اسلامي شريعت په قاموس کې ورته بدعت ويل کيږي ، او د علماوو په اتفاق يې لمونځ هم دروست نه دی .

څلورم :

کيفيت او څرنګوالی - : همدا راز که يو انسان اودس وکړي ،او اودس پېل د ښپو په مينځلو وکړي ، بيا لاسونه ووينځي ، بيا مخ ووينځي ، د اسلامي شريعت د کيفيت سره د مخالفت له کبله مونږ وايو دغه اودس له پېل

څخه باطل دی.

پنځم:

زمانه او وخت -: همدغه شان که یو سړی د ذي الحجې د میاشتې په لومړیو ورځو کې ګران قیمتي څربه حیوان قرباني کړي، نو د شریعت له نګاه نه دغه قرباني د قبولیت ځای نه نیسي، ځکه چې په وخت او زمانه کې یې سره توافق او سمون ونه خوړ، او ما لا دا هم اوریدلي دي چې ځیني خلک د لوي اختر د مبارکې ورځ قرباني د رمضان په مبارکه میاشت کې کوي، نو دوخت سره د نه سمون په بناء دغه ګرد عملونه بدعت شمېرل کیږي، هغه داسې چې د اضحیې - قربانۍ - عقیقې، او هدیې پرته بل داسې عبادت نشته چې انسان وربانديې الله پاک ته ډېر زیات نزدې کیږي.

د رمضان په میاشت کې په دې خاطر ذبحه کول چې دا ذبحه هم لکه د لوي اختر په څېر لوی اجر او ثواب لري، په بدعت نومول کیږي، خو دومره ده چې د غوښې لپاره وریکې ذبحه کول جواز لري.

شپږم:

مکان او ځای -: د بېلګې په توګه که څوک د مسجد پر ځای په بل پرامن ځای کې اعتکاف وکړي، د اعتکاف دغه عبادت یې هېڅکله د قبولیت په رنګ نه رنګ کیږي، ان که یوه ښځه په خپل کور کې هم اعتکاف وکړي سم او دروست نه بلل کیږي، ځکه چې د شریعت په رڼا کې یې د مکان سره توپیر او منافات وخوړ، یا د مثال په توګه که یو سړي وغواړي چې طواف وکړي او په مطاف کې ګڼه ګوڼه وي، د طواف کولو هېڅ چاره نه

وي ، او بهر ووځي او له ټول مسجد څخه طواف وکړي ، نو دا طواف يې هم صحيح او قابل قبول نه دى ، په دې معنى چې طواف له مسجد څخه نه بلکې له بيت الله څخه جواز لري ، ځکه خو الله پاک ابراهيم عليه السلام ته وايي : ( وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ ) (١)

ژباړه : او د طواف کونکو لپاره زما کور پاک کړه .

(١) سورت الحج : ( ٢٦ ) .

## د نيک عمل د شرطونو نچوړ

د تېرې څېړنې پايله په دې تماميږي چې هېڅکله عمل تر هغه نيک او صالحه کېدای نه شي چې تر څو ورپکې دوه شرطونه شتون ونه لري :

١ – اخلاص .

٢ – متابعت .

او متابعت هم هله په عمل کې موجوديږي چې تېر شپږ امور ورپکې ځای په ځای شي .

نېکبختي د سلفو صالحينو په متابعت کې نغښتل شوېده :

* هغه بدعتيان چې په دغې رنګارنګ بدعتونو اخته دي که په رښتيا هم د خېر اراده او نېکې هيلې لري ، زه ورته دا توصيه کوم چې د سلفو صالحينو له طريقي او منهج پرته په بل هېڅ دين ته منسوبو منهجونو کې خير او فائده نشته .

* محترمو! د نبي ﷺ - ټول سنت د ژامو په غاښونو کلک ونيسئ ، د سلفو صالحينو لارې او طريقې خپلې کړئ ، بيا ځان ته وګورئ چې ايا دغه متابعت تاسو ته کوم ډول ستړياوې يا ستونزه ورسوله ؟؟!

## بدعتيان او ثابت نبوي ارشادات

زه دلته يوې خبرې ته اشاره کول غواړم ، خو لومړى په الله پاک باندې د ټولو هغې څه نه پناه غواړم چې زه په لاعلمۍ سره خبره وکړم .
زه وايم : چې په بدعاتو منګولې لګونکي ټول خلک په هغې اعمالو کې چې د نبي ﷺ څخه يې شرعيت او سنيّت څرګند ثبوت نه لري ، زيات تقصير او کوتاهي کونکي دي ، بيا چې کله د خپلو بدعاتو د انجامولو څخه وزګار شي نو خپل ټول بدعات په اسلامي دائره کې د ثابته سنتو سره مقارنه کوي ، او همدغه په زړونو باندې د بدعتونو ښکاره اثر او علامه ده .
يوائې دا هم نه بلکې د زړونو نه په دين باندې ډېر زيات بد او ستونزمن اثر هم لري ، هغه داسې چې څوک هم د بدعاتو لړې پيل کړي نو د اسلام څخه يې د دغې رواج کړي بدعتونو په اندازه د اسلام زياته برخه له منځه يوړه .
او دا خبره ګردو سلفو صالحينو په خپلو اقوالو کې تاييد کړېده .
او چې کله انسان خپل ځان د شارع نه بلکې د تابع په صفت وپيژني ، نو د الله پاک په وړاندې به تل تر تله د خشوع او خضوع په مبارکه جامه ملبوس وي ، ان چې د نبي ﷺ په بشپړه توګه پيروکار جوړ شي .

## هغه چاته له پېرزو ډک نصيحت چې بدعت ورته ښه ښکاري

زه ټولو مسلمانانو ته د دې توصيه کوم چې ټول هغه بدعتونه چې تاسو ورباندې د نېک عمل ګمان کوئ ، که دغه بدعتونه د الله د ذات اړوند وي او که د هغه د نومونو اوصفتونو اړوند وي ، که دغه بدعتونه د نبي ﷺ د تعظيم او لوړ منزلت پورې رابطه لري ، اوکه نه ، بايد دغه انسان له الله پاک څخه وډارېږي او له دغې بدعت څخه لاس په سر شي ، او د خپل منهج بنياد دې د بدعت پرځای اتباع وګرځوي .

د شرک پر ځای دې اخلاص ، د بدعت پرځای دې سنت ، او د شيطان پر ځای دې د الله پاک رضا دخپلو عملونو بنسټيز هدف وګرځوي .

بيا دې خپل دغه نوی حالت د مخکني طرز زندګۍ پرتله کړي چې د دې زړه ته څومره سلامتيا ، سکون ، او ارام حاصل شو .

په پای کې له ا لله پاک څخه سوال او زاري کوم چې مونږ د سمې لارې ښونکي ، مصلحين ، او نيک پيشوايان جوړ کړي .

او زمونږ زړونه د ايمان په رڼا روښانه او مونږ باندې زمونږ حاصل کړی علم وبال ونه ګرځوي .

الله پاک دې مونږ ته د خپلو مؤمنو بندګانو سمه نيغه لاره راوښايي .

الله پاک دې مونږ د خپلو اولياو او متقيانو بندګانو له جملې څخه و ګرځوي .

وصلی الله وسلم علی خيرخلقه محمد وعلی اله وصحبه اجمعين

## لړ ليک

١ - : د امام محمدبن صالح العثيمين رَحِمَهُ اللهُ د ژوند سوانح ٤
٢ - : د محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ اللهُ نوم نسب او زوکړه ٥
٣ - : د محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ اللهُ علمي نشاطات ٥
٤ - : د محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ اللهُ علمي نشاطات او دندې ٧
٥ - : د شيخ رَحِمَهُ اللهُ علمي جد جهد او نشاطاتو نچوړ ٩
٦- : د محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ اللهُ صفتونه او مناقب ١١
٧- : د شيخ محمد بن صالح العثيمين رَحِمَهُ اللهُ ليکنې او اثار ١٣
٨- : د شيخ عثيمين رَحِمَهُ اللهُ مړينه ١٧
٩- : لومړی : د بدعت تعريف ١٩
١٠ - : د بدعت لغوي تعريف ١٩
١١ - : د بدعت اصطلاحي تعريف ٢١
١٢ - : دوهم : د بدعت ډولونه ٢٣
١٣ - : حقيقي بدعت ٢٣
١٤ - : اضافي بدعت دوه اړخونه لري ٢٣
١٥ - : بدعت مکفره ٢٤
١٦ - : غېر مکفره بدعت ٢٥
١٧ - : په بدعت او مبتدعينو د اهل السنتو الجماعت نيوکې ٢٦
١٨ - : نبي ﷺ ټول امت ته د اړتيا وړشيان بيان کړي دي ٣٠
١٩ - : د (مَافَرّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِن شَيْءٍ) کې د ناروا تفسيرونو نمونې ٣٤

۲۰ - : ايا په قرانكريم د روزمره لمونځونو وختونه شتون لري ؟ ۳۵
۲۱ - : له نبي ﷺ څخه د بانډه چيانو په پوښتنو د صحابه كرامو خوشحالېدل ۳۷
۲۲ - : بدعت جوړونه په دين كې د لعن طعن عقيده ده ۳۹
۲۳ - : په (كُلُّ بِدْعَةٍ) كې كليت عام تام او شامل كليت دى ۴۵
۲۴ - : هغه درې امور چې د كلمې په خپلې معنى دلالت كوي ۴۷
۲۵ - : نبوي پرېكنده او غوڅانده توره ۴۸
۲۶ - : د عمر t د قول (نعمَت الْبِدْعَةُ هَذِه) نه ځواب ۴۹
۲۷ - : ايا اجماع او بدعت حسنه سر يو ځاى كېداى شي ؟ ۵۳
۲۸ - : د (مَنْ سَنَّ فِي الْاِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً...) حديث نه ځوابونه ۵۵
۲۹ - : د الله پاک او د هغه د رسول د كلام ترمنځ هېڅ تضاد نشته ۵٦
۳۰ - : د عمل د نېكوالي شپږ شرطونه ۵۸
۳۱ - : د نيک عمل د شرطونو نچوړ ٦۲
۳۲ - : بدعتيان او ثابت نبوي ارشادات ٦۳
۳۳ - : هغه چاته له پيرزو ډک نصيحت چې بدعت ورته ښه ښكاري ٦۴
۳۴ - : لړليک ٦۵